مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

علم گل سحر ۲۰۲۱/۰۲/۰۴

# موږ

چې په ټول ژوند کې مجبور دي هغه موږ یو
چې هیڅ نه لري مغرور دي هغه موږ یو

چې پردي یې له نامه ځخه ویریږي
چې په خپل کاروان کې چور دي هغه موږ یو

چې دعوی کړي د جهان د ماتولو
چې باتور نه دي باتور دي هغه موږ یو

پرمختګ نه مرور شاته روان دي
چې په نس باندی مزدور دي هغه موږ یو

یو بل وژني ملامت نور خلک بولي
خو پخپله بې قصور دي هغه موږ یو

په پردیو یې تر خپلو زیات باور وي
سخت دښمن د خپل تربور دي هغه موږ یو

علم گل سحر


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ